


# د خلق دیموکراتیک مرام

د افغانستان د خلق دیموکراتیک گوند نوي کاري برنامه

«نوي بېرغوال»

# د مطالبو لړلیک


لومړی فصل ـ اساسي اصول: ........ 1
دویم فصل ـ سیاسي جوړښت: ........ 2
دریيم فصل ـ سیکولر دولت او مذهب: ........ 4
څلورم فصل ـ مدني حقونه: ........ 5
پنځم فصل ـ اداره او قضا: ........ 5
شپږم فصل ـ مالکیت او اقتصاد: ........ 6
اووم فصل ـ ځمکنۍ اصلاحات او د کوچیانو مسئله: ........ 6
اتم فصل ـ پلان شوی اقتصاد او عامه مالیه: ........ 7
نهم فصل ـ کار: ........ 8
لسم فصل ـ صنعت او سرچینې: ........ 9
یوولسم فصل ـ زده‌کړه: ........ 9
دولسم فصل ـ علم او څېړنه: ........ 9
دیارلسم فصل ـ روغتیا: ........ 10
څوارلسم فصل ـ استوګنځی، اوبه، انرژي او لېږد رالېږد: ........ 10
پنځلسم فصل ـ ټولنیز تأمین: ........ 11
شپاړسم فصل ـ ښځې او کورنۍ: ........ 12
اوولسم فصل ـ ماشومان او ځوانان: ........ 13
اتلسم فصل ـ ملي، ژبنۍ او فرهنګي برابري: ........ 13
نولسم فصل ـ فرهنګ او رسنۍ: ........ 14
شلم فصل ـ علم، ټکنالوژي، مصنوعي ځیرکتیا او روباټیک: ........ 14
یوویشتم فصل ـ چاپېریال: ........ 14
دوه‌ویشتم فصل ـ ښاري او کلیوالي پرمختګ: ........ 15
درېویشتم فصل ـ بهرنۍ پالیسي: ........ 15
څلورویشتم فصل ـ ملي مسئله او ځمکنۍ بشپړتیا: ........ 15
پنځه‌ویشتم فصل ـ سوسیالیزم ته لېږد: ........ 16
شپږویشتم فصل ـ سوسیالیستي نظام: ........ 16
اووه‌ویشتم فصل ـ کمونېستي افق: ........ 17
اته‌ویشتم فصل ـ د پروګرام د پلي کولو اصول: ........ 18

## سريزه:

د افغانستان د خلق ديموکراتيک گوند – «نوي بېرغوال» دغه مرام د مارکسيزم ـ لنينيزم، د کارگري او سوسياليستي غورځنگ د تاريخي تجربې او د افغانستان د مشخصو شرايطو په پام کې نيولو سره تدوينوي.

د دې برنامې موخه د داسې خپلواک، آزاد، عادلانه، آباد او پرمختللي افغانستان رامنځته کول دي چې طبيعي شتمنۍ او د ټولنيز کار حاصل يې د خلکو د اکثريت په خدمت کې وي او هېڅ انسان د جنسيت، قوم، ژبې، مذهب، بې‌مذهبۍ، سيمې يا اقتصادي موقعيت له امله له تبعيض سره مخ نه شي.

سوسياليزم يوه تاريخي او ټولنيزه پروسه ده چې د توليدي ځواکونو، علم او ټکنالوژۍ، زده‌کړې او ټولنيز پوهاوي، اقتصادي پلان‌جوړونې، د توليد پر عمده وسايلو د ټولنيز مالکيت او د خلکو د گډون پر ودې ولاړ دی.

# لومړی فصل ـ اساسي اصول:

### ماده ۱ ـ د خلکو واکمني:

سياسي واکمني له خلکو سرچينه اخلي او ټول دولتي بنسټونه بايد خلکو او قانوني استازوليزو بنسټونو ته ځواب‌ويونکي وي.

### ماده ۲ ـ ټولنيزه برابري:

ټول اتباع د قانون پر وړاندې برابر دي او د قوم، ژبې، جنسيت، مذهب، بې‌مذهبۍ، سيمې يا ټولنيزې طبقې پر بنسټ هېڅ سياسي، اقتصادي، ټولنيز يا حقوقي امتياز نه منل کېږي.

### ماده ۳ ـ ملي خپلواکي:

د هېواد سياسي، اقتصادي او پوځي خپلواکي د دولت اساسي اصل دی او هېڅ بهرنی ځواک حق نه لري چې خپله اراده پر افغانستان وتپي.

### ماده ۴ ـ ټولنيز عدالت:

د دولت پاليسۍ بايد د بې‌وزلۍ، بې‌کارۍ، نابرابرۍ او د استثمار د بنو د کمولو او د ژوند او انساني ودې لپاره د برابر فرصت د رامنځته کولو په لوري وي.

### ماده ۵ ـ هر اړخيز پرمختګ:

پرمختګ بايد په يو وخت کرنه، صنعت، انرژي، زده‌کړه، روغتيا، علم، ټکنالوژي، استوګنځۍ، لېږد رالېږد او د هېواد بنسټيزې زېربناوې رانغاړي.

### ماده ٦ ـ د اساسي اړتياوو برابرول:

د خلکو اساسي اړتياوې د هېواد د توليدي او اقتصادي ظرفيت سره سم، د وړيا خدمتونو، ټولنيزو مرستو يا نورو عامه ميکانيزمونو له لارې برابريږي.

### ماده ۷ ـ سوسياليستي لورى:

د هېواد اقتصاد او سياست په يوه تاريخي بهير کې او د ټولنې د واقعي شرايطو سره سم، د ټولنيز مالکيت د پراختيا، د استثمار او نابرابرۍ د کمولو او سوسياليزم ته د تدريجي لېږد په لوري تنظيميږي.

## دويم فصل ـ سياسي جوړښت:

### ماده ۸ ـ د شوراګانو جوړښت:

سياسي نظام پر سيمه‌ييزو، ښاري، ولسوالي، ولايتي او ايالتي شوراګانو، ملي کانګرې او انقلابي شورا ولاړ دی.

### ماده ۹ ـ ټاکنې:

ټاکنې د عمومي، برابر، مستقيم او پټو رايو د حق پر بنسټ ترسره کېږي او ټول واجد شرايط اتباع د ټاکلو او ټاکل کېدو حق لري.

### ماده ۱۰ ـ سيمه‌ييزه شورا:

سيمه‌ييزه شورا د خلکو تر ټولو نږدې استازوليز بنسټ دی او د سيمې د اړتياوو، عامه خدمتونو، سيمه‌ييز پرمختګ او پر سيمه‌ييزې ادارې د څارنې د ارزونې مسؤليت لري.

### ماده ۱۱ ـ ښاري شورا:

ښاري شورا د ښار د پرمختګ، استوګنځي، اوبو، انرژۍ، لېږد رالېږد، چاپېريال او ښاري عامه خدمتونو پر چارو څارنه کوي.

### ماده ۱۲ ـ ولسوالي شورا:

ولسوالي شورا د ولسوالي د پرمختيايي پروګرامونو، عامه خدمتونو، کرنې، زېربناوو او د سيمه‌ييزو شوراګانو ترمنځ د همغږۍ چارې څاري.

### ماده ۱۳ ـ ولايتي شورا:

ولايتي شورا د ولايت د خلکو استازيتوب کوي او د ملي پروګرامونو پر پلي کولو او د ولايت په کچه پر متوازن پرمختګ څارنه کوي.

### ماده ۱۴ ـ ايالتي شورا:

ايالتي شورا د ايالت په کچه د اقتصادي، ټولنيزو او زېربنايي پروګرامونو د همغږۍ مسؤليت لري او د تابع سيمو اړتياوې مرکزي بنسټونو ته لېږدوي.

### ماده ۱۵ ـ انقلابي شورا:

انقلابي شورا د ملي استازولۍ، قانون‌جوړونې او څارنې تر ټولو لوړ دايمي بنسټ دی. دا شورا قوانين، ملي پروګرامونه، عامه بودجه او د هېواد اساسي پاليسۍ ارزوي او تصويبوي، او د ولسمشر، د وزيرانو شورا او نورو دولتي بنسټونو پر کړنو څارنه لري. د ولسمشر يا د وزيرانو شورا هېڅ اجرائيوي پرېکړه نه شي کولای چې د قانون، ملي پروګرام او د انقلابي شورا د قانوني تصويبونو خلاف وي.

### ماده ۱۶ ـ ملي کانګره:

ملي کانګره په هرو پنځو کلونو کې يو ځل جوړېږي، د هېواد اساسي لورې او ملي پروګرامونه ارزوي او تصويبوي، او ولسمشر ټاکي.

### ماده ۱۷ ـ سياسي فعاليت او د ګوند ځای:

د سياسي ګوندونو، کارګري اتحاديو، ټولنيزو سازمانونو، مدني انجمنونو او نورو قانوني تشکيلاتو قانوني فعاليت آزاد دی، او دا بنسټونه کولای شي په سياسي، ټولنيزو، فرهنګي، مشورتي او ټاکنيزو چارو کې ګډون وکړي.

د افغانستان د خلق ديموکراتيک گوند – «نوي ېبرغوال» د سوسياليستي برنامې د لېږدوونکي او سوسياليزم ته د لېږد په لاره کې د مخکښ سياسي ځواک په توګه فعاليت کوي؛ خو د دولتي واک کارول بايد د قانوني بنسټونو، ټاکنو، استازوليزو شوراګانو او تصويب شويو قوانينو له لارې وشي.

هېڅ ګوندي مقام يوازې د ګوند د غړيتوب له کبله له قانون يا دولتي بنسټونو پورته نه واقع کېږي.

نور ګوندونه او سازمانونه حق لري چې خپل پروګرام او سياسي نظر د قانون په چوکاټ کې وړاندې کړي او د خلکو د ملاتړ د جلبولو لپاره فعاليت وکړي، په دې شرط چې د ملي واکمنۍ، ځمکنۍ بشپړتيا، د خلکو د حقونو او د هېواد د قانوني نظم اصل نقض نه کړي.

### ماده ۱۸ ـ ولسمشر:

ولسمشر د ملي کانګرې له خوا د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي. د دورې تر پای وروسته د ولسمشر د کار دوام د ملي کانګرې له خوا د هغه د بيا ټاکل کېدو تابع دی.

ولسمشر د قوانينو، ملي پروګرامونو او د انقلابي شورا د قانوني تصويبونو د پلي کولو مسؤل دی او ملي کانګرې او انقلابي شورا ته ځوابوېونکی دی.

هېڅ ولسمشر نه شي کولای د خپل مقام په استناد د قوانينو پلي کول يا د قانوني بنسټونو ځارنه وځنډوي يا محدوده کړي.

### ماده ۱۹ ـ د وزيرانو شورا:

د وزيرانو شورا د هېواد تر ټولو لوړ اجرائيوي بنسټ دی او مشري يې له ولسمشر سره ده.

ولسمشر د وزيرانو شورا غړي وړانديزوي او د هغوی ټاکنه د انقلابي شورا تر تأييد وروسته کېږي.

د وزيرانو شورا د قوانينو، بودجې، پرمختيايي پروګرامونو او د هېواد د عمومي پاليسيو د پلي کولو مسؤله ده، او هر وزير ولسمشر، انقلابي شورا او قانون ته مسؤليت لري.

### ماده ۲۰ ـ د اجرائيه قوې ځوابوېونه:

د وزيرانو شورا او غړي يې مکلف دي چې د خپل فعاليت رپوټ، بودجه او د اجرائيوي پروګرامونو پايلې انقلابي شورا ته وړاندې کړي.

انقلابي شورا حق لري چې هر اجرائيوي مقام د وضاحت لپاره راوغواړي، اړين اسناد او معلومات وغواړي، او د سرغړونې د ليدلو په صورت کې موضوع د قانوني رسېدنې لپاره قضايي يا ځارنيزو بنسټونو ته راجع کړي.

ملي کانګره هم د حکومت کړنې ارزوي او کولای شي د قانون پر بنسټ د مسؤلو مقامونو د اصلاح، بدلون يا ګوښه کولو غوښتنه وکړي.

### ماده ۲۱ ـ د ولسمشر او انقلابي شورا اړيکه:

ولسمشر د انقلابي شورا مشري پر غاړه لري، خو دا د دې معنا نه لري چې هغه د شورا پر تصويبونو شخصي واک ولري يا د ځارنې بهير وځنډوي.

د انقلابي شورا پرېکړې د رايې‌اچونې له لارې او د شورا د داخلي مقرراتو پر بنسټ نيول کېږي، او پر ولسمشر، د وزيرانو شورا او نورو دولتي بنسټونو ځارنه د دلهييزو ميکانيزمونو، تخصصي کمېسيونونو او خپلواکو ځارنيزو بنسټونو له لارې تضمينېږي.

### ماده ۲۲ ـ د تفتيش او حسابرسۍ کمېسيون:

د تفتيش او حسابرسۍ کمېسيون يو خپلواک بنسټ دی چې پر ټولو دولتي ادارو مالي او اداري ځارنه کوي او غړي يې د ملي کانګرې له خوا ټاکل کېږي.

دا کمېسیون حق لري چې د ولسمشر، د وزیرانو شورا، انقلابي شورا، وزارتونو، دولتي شرکتونو، سیمه‌ییزو بنسټونو او نورو عامه ادارو مالي او اداري کړنې وارزوي.

د دې کمېسیون اساسي رپوټونه ملي کانګرې او انقلابي شورا ته وړاندې کېږي او عامه برخه یې د خلکو د خبرتیا لپاره خپرېږي.

**ماده ۲۳ ـ د قانون واکمني:**

هېڅ مقام، ګوند، سازمان یا فرد له قانون پورته نه دی. فساد، اختلاس، رشوت، له واکه ناوړه ګټه اخیستل او د عامه شتمنیو ناقانونه تصرف جرم ګڼل کېږي.

**ماده ۲۴ ـ د ولسمشر ګوښه کول:**

ملي ګټو ته د خیانت، د قانون د جدي نقض، پراخ فساد، له واکه د ناوړه ګټې اخیستنې یا د دندو په ترسره کولو کې د جدي ناتوانۍ په صورت کې، د ولسمشر د ګوښه کولو د ارزونې بهیر پیلېږي.

تورونه باید په یوه قانوني بهیر کې وڅېړل شي او ولسمشر د دفاع حق لري. د قانوني بهیر تر بشپړېدو وروسته، ملي کانګره کولای شي په خپلې قانوني رایې سره ولسمشر له مقامه ګوښه کړي.

د ولسمشرۍ د مقام د ګوښه کېدو یا تشېدو په صورت کې، د هېواد لنډمهاله اداره د قانون مطابق ترسره کېږي او ملي کانګره مکلفه ده چې د نوي ولسمشر د ټاکلو بهیر جوړ کړي.

**ماده ۲۵ ـ په ګوند کې دننه دیموکراسي:**

ګوند د دیموکراتیک سانترالیزم پر اصل ولاړ دی؛ د پرېکړې‌نیونې په پړاو کې بحث او نیوکه آزاده ده، خو تر پرېکړې وروسته د ډله‌ییزې پرېکړې پلي کول پر غړو لازمي دي.

**ماده ۲۶ ـ سیمه‌ییز ابتکار:**

سیمه‌ییزې شوراګانې د قانون په چوکاټ کې د خپلې سیمې د ستونزو د حل لپاره د ابتکار حق لري.

**ماده ۲۷ ـ عامه ځواب‌ویونه:**

دولتي بنسټونه مکلف دي چې خلکو ته د خپلو کړنو او د عامه بودجې د لګولو د څرنګوالي رپوټ ورکړي.

## درېیم فصل ـ سیکولر دولت او مذهب:

**ماده ۲۸ ـ د مذهب او دولت بېلتون:**

دولت له مذهبي بنسټونو جلا دی او هېڅ مذهب یا روحاني به دولتي امتیاز ونه لري.

**ماده ۲۹ ـ د مذهب آزادي:**

هر تبعه حق لري چې هر مذهب غوره کړي، خپل مذهب بدل کړي یا بې‌مذهبه وي.

**ماده ۳۰ ـ مذهبي برابري:**

ټول مذهبونه او بې‌مذهبه اتباع د قانون پر وړاندې برابر دي.

**ماده ۳۱ ـ د مذهبي اجبار منع:**

هېڅ فرد نه شي کولای بل کس د مذهبي مناسکو ترسره کولو یا پرېښودو ته اړ کړي.

### ماده ۳۲ ـ مذهبي بنستونه:

مذهبي بنسټونه کولای شي د قانون مطابق فعالیت وکړي، خو د موازي حکومت د جوړولو یا پر ټولنه د مذهبي قوانینو د تپلو حق نه لري.

### ماده ۳۳ ـ مذهبي زده‌کړه:

خصوصي مذهبي زده‌کړه آزاده ده؛ د هېواد عامه زده‌کړه به پر علم، انتقادي فکر او سیکولر اصولو ولاړه وي.

## څلورم فصل ـ مدني حقونه:

### ماده ۳۴ ـ فردي آزادي:

فردي آزادي، امنیت او انساني کرامت خوندي دي او هېڅوک له قانوني مبنا پرته نه شي نیول کېدای یا محدودېدای.

### ماده ۳۵ ـ د بیان آزادي:

هر تبعه حق لري چې خپل نظر او فکر بیان کړي.

### ماده ۳۶ ـ د مطبوعاتو آزادي:

د رسنیو او مطبوعاتو فعالیت د قانون په چوکاټ کې آزاد دی.

### ماده ۳۷ ـ غونډه:

قانوني سوله‌ییزې غونډې آزادې دي.

### ماده ۳۸ ـ تشکل:

د قانوني اتحادیو، انجمنونو او سیاسي سازمانونو جوړول آزاد دي.

### ماده ۳۹ ـ د شکنجې منع:

شکنجه او هر ډول غیرانساني چلند منع دی.

### ماده ۴۰ ـ د تبعیض منع:

د جنسیت، قوم، ژبې، مذهب، بې‌مذهبۍ، سیمې یا اقتصادي وضعیت پر بنسټ هر ډول قانوني او اداري تبعیض منع دی.

### ماده ۴۱ ـ عدالت ته لاسرسی:

هر تبعه محکمې ته د برابر لاسرسي او حقوقي دفاع حق لري.

### ماده ۴۲ ـ شخصي حریم:

د اتباعو شخصي حریم، کور، لیکلي اړیکې او شخصي معلومات له ناقانونه لاسوهنې خوندي دي.

## پنځم فصل ـ اداره او قضا:

### ماده ۴۳ ـ وړتیاپالنه:

دولتي استخدام د تخصص، وړتیا، تجربې او واقعي اړتیا پر بنسټ ترسره کېږي.

### ماده ۴۴ ـ له فساد سره مبارزه:

فساد او د مسؤلانو ناقانونه شتمنۍ څېړل کېږي، او تصرف شوې عامه شتمنۍ د قانون مطابق عامه مالکیت ته بېرته ګرځول کېږي.

### ماده ۴۵ ـ قضايي خپلواکي:

محکمې د قانون په پلي کولو کې خپلواکې دي او هېڅ سياسي مقام د قضايي بهير د ناقانونه لاسوهنې حق نه لري.

### ماده ۴٦ ـ د قانون پر وړاندې برابري:

ټول اتباع د قانون پر وړاندې برابر دي.

### ماده ۴۷ ـ حقوقي خدمتونه:

کمعايد او محروم کسان له عامه حقوقي خدمتونو او قانوني دفاع څخه برخمنېږي.

## شپږم فصل ـ مالکيت او اقتصاد:

### ماده ۴۸ ـ د مالکيت نظام:

په هېواد کې مالکيت عامه، دولتي، ټولنيز، تعاوني او خصوصي مالکيت رانغاړي.

عامه مالکيت هغه سرچينې او شتمنۍ رانغاړي چې د ټولو خلکو پورې اړه لري او کارونه يې بايد د ټولنې د ګټو په خدمت کې وي.

دولتي مالکيت هغه شتمنۍ او مؤسسې رانغاړي چې دولت يې د ټولنې په استازيتوب اداره کوي.

ټولنيز او تعاوني مالکيت هغه مؤسسې او شتمنۍ رانغاړي چې د شوراګانو، کارګرانو، بزګرانو يا ټولنيزو تعاونيانو له خوا په ډلهييز ډول اداره کېږي.

خصوصي مالکيت د قانون په چوکاټ کې محترم دی، خو بايد د انسان پر انسان د استثمار، د عامه سرچينو د انحصار يا د اقتصاد پر حياتي برخو د واکمنۍ په وسيله بدل نه شي.

### ماده ۴۹ ـ طبيعي سرچينې:

طبيعي سرچينې او عامه شتمنۍ د خلکو پورې اړه لري او له هغو ترلاسه کېدونکی عايد بايد د عامه هوساينې او د هېواد د پرمختګ په خدمت کې وي.

### ماده ۵۰ ـ پلان شوی اقتصاد:

ملي اقتصاد د پلان‌جوړونې، د توليدي ځواکونو د ودې، د اساسي اړتياوو د برابرولو او د نابرابرۍ د کمولو پر بنسټ تنظيمېږي.

## اووم فصل ـ ځمکنۍ اصلاحات او د کوچيانو مسئله:

### ماده ۵۱ ـ ځمکه د بزګرانو لپاره:

د کر وړ ځمکې د عادلانه ځمکنيو اصلاحاتو پر بنسټ بې‌ځمکو او کم‌ځمکو بزګرانو ته سپارل کېږي.

### ماده ۵۲ ـ د ځمکوالۍ د استثماري اړيکو پای:

د ځمکوالۍ استثماري اړيکې او هغه مناسبات چې بزګر ترلي او استثمار شوی ساتي، له منځه وړل کېږي.

### ماده ۵۳ ـ د بزګرانو تعاونيانې:

د توليد، د ماشين‌آلاتو د پېرلو، بازارموندنې او د ګډو سرچينو د کارولو لپاره د بزګرانو د داوطلبانه تعاونيانو جوړول ملاتړ کېږي.

### ماده ۵۴ ـ د کرنې ميکانيزه کول:

دولت مکلف دی چې ميکانيزه کول، اوبه‌لګونه، سره، اصلاح شوی تخم او تخنيکي پوهه پراخه کړي.

**ماده ۵۵ ـ د خوړو خوندیتوب:**

د خوړو د بحرانونو د مخنیوي لپاره د خوراکي موادو کورنی تولید او ستراتیژیکې زېرمې رامنځته کېږي.

**ماده ۵۶ ـ د کوچیانو د مسئلې حل:**

د کوچیانو مسئله د یوه ملي، عادلانه او تدریجي پروګرام له لارې حل کېږي. د دې پروګرام موخه د ځمکې او څرځای د شخړو پای ته رسول، کوچیانو ته د ورو ژوند برابرول او په یو وخت کې د بزګرانو او د کلیوالي سیمو د اوسېدونکو د حقونو ساتل دي.
هغه کوچیان چې دایمي ژوند غواړي، په داوطلبانه توګه په مناسبو سیمو کې مېشتېږي او د استوګنې او تولید لپاره له ځمکې، اوبو، ښوونځي، روغتیایي خدمتونو، لارې، برېښنا او تولیدي اسانتیاوو برخمنېږي.
په هغو سیمو کې چې دودیز کوچي ژوند دوام مومي، د څرځایونو د کارولو قانوني او منظمې لارې ټاکل کېږي او د بزګرانو یا کوچیانو د ځمکې هر ډول جبري تصرف منع دی.

**ماده ۵۷ ـ عامه ځمکه:**

عامه او دولتي ځمکې د تولید، استوګنې او عامه زېربناوو لپاره کارول کېږي او د ځمکو غصب او پر ځمکو سوداګري منع دي.

**ماده ۵۸ ـ د کلیو پرمختګ:**

کلي باید اوبو، برېښنا، زده‌کړې، روغتیا، لارې او اړیکو ته لاسرسی ولري.

**ماده ۵۹ ـ له بزګر څخه ملاتړ:**

دولت بزګرانو ته تخنیکي خدمتونه، تولیدي اسانتیاوې، کرنیز توکي او اقتصادي او حقوقي ملاتړ برابروي.

## اتم فصل ـ پلان شوی اقتصاد او عامه مالیه:

**ماده ۶۰ ـ اقتصادي پلان‌جوړونه:**

د هېواد اقتصاد د اوږدمهالو، پنځه‌کلنو او کلنیو پروګرامونو پر بنسټ تنظیمېږي.
هېڅ ملي پروګرام د موخې، مالي سرچینو، تولیدي ظرفیت، بشري ځواک، مسؤل بنسټ، مهال‌وېش او د اندازې وړ شاخص له ټاکلو پرته نه تصویبېږي.
اقتصادي پروګرامونه باید وټاکي چې په کومه موده کې څومره تولید، کارموندنه، استوګنځی، برېښنا، اوبه، کرنیز محصولات، روغتیایي او ښوونیز خدمتونه رامنځته کېږي او د هغو اړینې سرچینې به له کومه برابرېږي.

**ماده ۶۱ ـ اقتصادي لومړیتوبونه:**

د ملي پروګرامونو لومړیتوبونه خواړه، استوګنځی، اوبه، انرژي، زده‌کړه، روغتیا، صنعت او زېربناوې رانغاړي.

**ماده ۶۲ ـ بودجه:**

عامه بودجه باید شفافه، له ملي پروګرامونو سره تړلې، او د عوایدو، لګښتونو، پانګونې او د مالي تأمین د سرچینو شامله وي.

**ماده ۶۳ ـ د طبیعي سرچینو عاید:**

له کانونو، نفتو، ګازو، اوبو، انرژۍ او نورو طبیعي سرچینو ترلاسه کېدونکی عاید په عامه مالکیت پورې اړه لري او باید د افرادو، خصوصي شرکتونو یا سیاسي ډلو په شخصي شتمنۍ بدل نه شي.

د دې عوايدو اساسي برخه بايد د عامه بودجې او ملي پرمختيايي صندوق له لارې، د وړيا زده‌کړې، وړيا روغتيايي خدمتونو، ټولنيز استوګنځي، اوبو او برېښنا، کرنې، صنعت، زېربناوو، علمي څېړنو او نورو پرمختيايي پروګرامونو لپاره ټولنې ته بېرته وګرځول شي.

په هغو مواردو کې چې د عامه خدمتونو مستقيمه ورکړه ممکنه نه وي، دولت کولای شي اساسي مالونو او خدمتونو ته د خلکو د عادلانه لاسرسي د تضمين لپاره د مرستو او کوپن يا ټولنيز اعتبار له نظامه کار واخلي.

### ماده ٦۴ ـ ماليه:

مالياتي نظام د ورکړې د وړتيا پر بنسټ تنظيمېږي او لويه شتمني او لوی اقتصادي فعاليت به په عامه مالي تأمين کې ډېره ونډه ولري.

### ماده ٦۵ ـ د انحصار ضد:

د اقتصاد پر حياتي برخو خصوصي انحصار منع دی.

### ماده ٦٦ ـ تعاونيانې:

توليدي او مصرفي تعاونيانې د دولت تر ملاتړ لاندې نيول کېږي.

### ماده ٦٧ ـ بهرنۍ سوداګري:

بهرنۍ سوداګري بايد د هېواد د اړتياوو، کورني توليد، د ټکنالوژۍ د لېږد او اقتصادي خپلواکۍ په خدمت کې وي.

### ماده ٦٨ ـ د تراو کمول:

هېواد د کورني توليد او اقتصادي تنوع په پراختيا سره پر وارداتو او بهرنيو څواکونو تړاو کموي.

## نهم فصل ـ کار:

### ماده ٦٩ ـ د کار حق:

هر تبعه د کار او د کارموندنې فرصت ته د لاسرسي حق لري.

### ماده ٧٠ ـ مزد:

مزد د کار، مهارت او د ژوند د لګښت پر بنسټ ټاکل کېږي او لږ تر لږه مزد په منظم ډول بياکتل کېږي.

### ماده ٧١ ـ د کار ساعتونه او استراحت:

د کارګرانو د کار ساعتونه، رخصتۍ، اجازې او استراحت د قانون مطابق تضمينېږي.

### ماده ٧٢ ـ اتحاديې:

کارګران د اتحاديو او صنفي سازمانونو د جوړولو حق لري.

### ماده ٧٣ ـ د کار خونديتوب:

دولت او کاروركوونكي مکلف دي چې سالم او خوندي کاري چاپېريال برابر کړي.

### ماده ٧۴ ـ د کارګرانو ګډون:

کارګران د عامه او تعاوني مؤسسو په اداره او له کاري چاپېريال سره اړوندو پرېکړو کې ګډون کوي.

## لسم فصل ـ صنعت او سرچينې:

### ماده ۷۵ ـ ستراتيژيکي سرچينې:

کانونه، انرژي او ستراتيژيکي سرچينې د عامه مالکيت او د دولت د څارنې لاندې دي.

### ماده ۷۶ ـ اساسي صنايع:

بنسټيز او زېربنايي صنايع بايد تر ډېره په عامه، دولتي يا ټولنيز مالکيت کې وي.

### ماده ۷۷ ـ د سرچينو استخراج:

د سرچينو استخراج بايد شفاف، علمي، پايدار او د چاپېريال په رعايت سره وي.

### ماده ۷۸ ـ د سرچينو د عوايدو لګول:

د سرچينو عوايد په لومړۍ درجه کې د زده‌کړې، روغتيا، استوګنځي، اوبو، انرژۍ، صنعت او زېربناوو لپاره کارول کېږي.

### ماده ۷۹ ـ صنعتي کول:

د صنعتي کولو ملي پروګرام د هېواد د سرچينو، کورنيو اړتياوو، بشري ځواک، ټکنالوژۍ او پانګونې پر بنسټ تنظيمېږي او کمّي موخې او مشخص مهالوېش به ولري.

## يوولسم فصل ـ زده‌کړه:

### ماده ۸۰ ـ وړيا زده‌کړه:

عامه زده‌کړه له لومړنۍ دورې څخه تر دولتي لوړو زده‌کړو پورې وړيا وړاندې کېږي.

### ماده ۸۱ ـ علمي زده‌کړه:

ښوونيز نظام پر علم، انتقادي فکر، تخنيکي پوهه او ټولنيزې پېژندنې ولاړ دی.

### ماده ۸۲ ـ له بې‌سوادۍ سره مبارزه:

د بې‌سوادۍ د ريښې ايستلو ملي پروګرام پلي کېږي او هر کال ارزول کېږي.

### ماده ۸۳ ـ مسلکي زده‌کړه:

تخنيکي او مسلکي زده‌کړې د اقتصاد د اړتياوو سره سم پراخېږي.

### ماده ۸۴ ـ لوړې زده‌کړې:

دولتي لوړې زده‌کړې د واجدو شرايطو محصلينو لپاره وړيا دي.

## دولسم فصل ـ علم او څېړنه:

### ماده ۸۵ ـ علمي بودجه:

د ملي بودجې يوه ټاکلې ونډه علم او ټکنالوژۍ ته ځانګړې کېږي او د اقتصاد له ودې سره سم زياتېږي.

### ماده ۸۶ ـ علمي آزادي:

علمي څېړنه او پوهنتوني فعاليت له علمي آزادۍ برخمن دي.

### ماده ۸۷ ـ ملي څېړنه:

څېړنې بايد د افغانستان له اړتياوو او د توليدي ځواکونو له ودې سره تړاو ولري.

### ماده ۸۸ ـ متخصص ځواک:

د افغان متخصصانو د بېرته ستنولو یا جذب او د نویو متخصصانو د نسل د روزنې لپاره ملي پروګرام رامنځته کېږي.

### ماده ۸۹ ـ پوهنتون او صنعت:

پوهنتونونه، څېړنیز مرکزونه او صنایع باید له یو بل سره منظم تړاو ولري.

## دیارلسم فصل ـ روغتیا:

### ماده ۹۰ ـ وړیا روغتیا:

د افغانستان اتباعو ته اساسي روغتیایي خدمتونه وړیا وي.

### ماده ۹۱ ـ روغتیایي شبکه:

د روغتونونو او روغتیایي مرکزونو سراسري شبکه رامنځته کېږي.

### ماده ۹۲ ـ درمل:

اساسي درمل وړیا یا د عامه ملاتړ لاندې وړاندې کېږي. د درملو مصرف به کنټرولېږي، څو له هېواده بهر د درملو د قاچاق مخه ونیول شي.

### ماده ۹۳ ـ مخنیوی:

واکسیناسیون، مخنیوی او عامه روغتیایي زده‌کړه پراخېږي.

### ماده ۹۴ ـ د مور او ماشوم روغتیا:

د مور او ماشوم روغتیایي خدمتونه وړیا وي.

### ماده ۹۵ ـ سالم چاپېریال:

پاکې اوبه، سالم چاپېریال، سالم خواړه او له ساري ناروغیو سره مبارزه تضمینېږي.

### ماده ۹۶ ـ د درملو تولید:

د درملو او طبي تجهیزاتو کورنی تولید پراخېږي.

## څوارلسم فصل ـ استوګنځی، اوبه، انرژي او لېږد رالېږد:

### ماده ۹۷ ـ د استوګنځي حق:

استوګنځی د خلکو له اساسي اړتیاوو څخه دی. دولت د ملي ودانیزو پروګرامونو، عامه ځمکې، د استوګنې تعاونیانو او ټولنیز استوګنځي له لارې د خلکو د استوګنې اړتیا برابروي.

کم‌عاید اشخاص او کورنۍ، بې‌سرپناه کسان، معلولان، زاړه او کورنۍ چې ځانګړي شرایط لري، د ټولنیز استوګنځي په ترلاسه کولو کې لومړیتوب لري.

### ماده ۹۸ ـ د استوګنځي ملي پروګرام:

د ټولنیز استوګنځي ملي پروګرام د نفوس، سیمه‌ییزې اړتیا او د هېواد د اقتصادي ظرفیت پر بنسټ پلي کېږي.

**ماده ۹۹ ـ اوبه:**

د کورنیو د اوبو ضروري او متعارف مصرف وړیا برابریږي. د متعارف مصرف کچه د کورنۍ د غړو د شمېر، اقلیمي شرایطو، د سیمې د لاسرسي او واقعي اړتیا پر بنسټ ټاکل کېږي.

له متعارف حد څخه لوړ مصرف د تصاعدي تعرفې تابع کېدای شي، څو هم اسراف کم او هم د اوبو سرچینې وساتل شي.

**ماده ۱۰۰ ـ برېښنا او انرژي:**

د کورنیو د برېښنا ضروري او متعارف مصرف وړیا یا له بشپړ ټولنیز ملاتړ سره برابریږي.

د بنسټیز مصرف کچه د کورنۍ د اندازې او اقلیمي شرایطو پر بنسټ ټاکل کېږي. له بنسټیزې کچې پورته مصرف د تصاعدي تعرفې تابع کېدای شي.

دولت د اوبیزې، لمریزې، بادیزې او نورو پایدارو سرچینو له لارې د برېښنا د تولید ظرفیت پراخوي.

**ماده ۱۰۱ ـ عامه لېږد رالېږد:**

ضروري عامه لېږد رالېږد او هغه خدمتونه چې د خلکو د کار ځای، زده‌کړې، روغتیایي خدمتونو او نورو اساسي اړتیاوو ته د لاسرسي لپاره رامنځته شوي دي، باید وړیا یا په ډېره ټیټه ټولنیزه بیه وړاندې شي.

دولت مکلف دی چې د عامه لېږد رالېږد، اورګاډي او د عامه تګ راتګ د نورو وسیلو ملي شبکه پراخه کړي.

**ماده ۱۰۲ ـ زېربنا:**

زېربناوې د ملي پروګرامونو له لارې او د سیمو د متوازن پرمختګ په موخه رامنځته کېږي.

## پنځلسم فصل ـ ټولنیز تأمین:

**ماده ۱۰۳ ـ ټولنیز تأمین:**

د ټولنیز تأمین هر اړخیز نظام رامنځته کېږي.

**ماده ۱۰۴ ـ تقاعد:**

د تقاعد حقوق تضمینېږي.

**ماده ۱۰۵ ـ معلولان:**

معلولیت لرونکي کسان له ټولنیز ملاتړ او اړینو خدمتونو برخمنېږي.

**ماده ۱۰۶ ـ زاړه:**

زاړو کسانو ته خدمتونه او ټولنیز ملاتړ برابریږي.

**ماده ۱۰۷ ـ د کورنیو او هېواد ته د راستنېدونکو ملاتړ:**

اړمنې کورنۍ له ټولنیز او اقتصادي ملاتړ څخه برخمنېږي.

**ماده ۱۰۸ ـ د ماشومانو پالنه:**

د ماشومانو د ساتنې او پالنې عامه مرکزونه رامنځته کېږي.

**ماده ۱۰۹ ـ ټولنیزه بیمه:**

د عامه ټولنیزې بیمې نظام رامنځته کېږي.

**ماده ۱۱۰ ـ له بېوزلۍ سره مبارزه:**

د بېوزلۍ د کمولو او ريښېي ايستلو ملي پروګرام رامنځته کېږي او د بېوزلۍ شاخصونه په منظم ډول اندازه کېږي.

## شپاړسم فصل ـ ښځې او کورنۍ:

**ماده ۱۱۱ ـ د ښځو او نارينه‌وو برابري:**

ښځې او نارينه له برابر سياسي، اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقونو برخمن دي.

**ماده ۱۱۲ ـ د ښځو سياسي ګډون:**

په سياسي او دولتي بنسټونو کې د ښځو ګډون تضمينېږي.

**ماده ۱۱۳ ـ برابر مزد:**

د برابر کار په بدل کې برابر مزد ورکول کېږي.

**ماده ۱۱۴ ـ د نجونو زده‌کړه:**

په ټولو کچو کې د نجونو زده‌کړه آزاده، وړيا او تضمين شوې ده.

**ماده ۱۱۵ ـ واده:**

واده يوازې د دواړو لورو په آزاد رضايت سره معتبر دی. ښځې به د طلاق او د حمل د سقط له حقه برخمنې وي.

**ماده ۱۱۶ ـ د ماشومانو واده:**

د ماشومانو واده منع او جرم دی. هېڅ فرد، کورنۍ، مقام يا مذهبي بنسټ حق نه لري چې ماشوم واده ته اړ کړي.

**ماده ۱۱۷ ـ د نجونو پلور او قاچاق:**

د پيسو، ځمکې، پور، د شخړې د حل، جبري واده يا هرې مادي او غيرمادي ګټې په بدل کې د نجونو پلورل، پېرل، معامله کول، تبادله کول يا سپارل منع او جرم دي.

د نجونو او ښځو قاچاق او له هغوی څخه د معاملې يا د اختلاف د حل د وسيلې په توګه کار اخيستل هم جرم ګڼل کېږي.

**ماده ۱۱۸ ـ له قربانيانو ملاتړ:**

د جبري واده، د ماشومانو د ودونو، د نجونو د پلور او قاچاق قربانيان بايد له خوندي پناه‌ځای، روغتيايي خدمتونو، زده‌کړې، حقوقي ملاتړ او ټولنيز ژوند ته د خپلواک بېرته ستنېدو له امکانه برخمن شي.

**ماده ۱۱۹ ـ د ښځو پر وړاندې تاوتريخوالی:**

د ښځو پر وړاندې فزيکي، جنسي، رواني، اقتصادي او ټولنيز تاوتريخوالی جرم دی.

**ماده ۱۲۰ ـ اقتصادي برابري:**

ښځې په مالکيت، ميراث، کار، زده‌کړه او اقتصادي ګډون کې برابر حقوق لري.

**ماده ۱۲۱ ـ د تاريخي ظلم له منځه وړل:**

دولت د ښځو د پرمختګ پر وړاندې د تاريخي او ټولنيزو خنډونو د له منځه وړلو لپاره ځانګړي پروګرامونه پلي کوي.

# اوولسم فصل ـ ماشومان او ځوانان:

### ماده ۱۲۲ ـ د ماشوم حقونه:

د ماشوم حقونه او د هغه فزيکي، رواني او ټولنيز امنيت تضمينېږي.

### ماده ۱۲۳ ـ د ماشوم کار:

د ماشومانو کار منع دی.

### ماده ۱۲۴ ـ د ځوانانو زده‌کړه:

د ځوانانو عامه او تخنيکي زده‌کړه پراخېږي.

### ماده ۱۲۵ ـ د ځوانانو کارموندنه:

د ځوانانو د کارموندنې او مهارت‌زده‌کړې لپاره ملي پروګرام رامنځته کېږي.

### ماده ۱۲۶ ـ سپورت:

عامه سپورت او دولتي ورزشي اسانتياوې پراخېږي.

### ماده ۱۲۷ ـ د ځوانانو ګډون:

ځوانان په شوراګانو، ټولنيزو بنسټونو او پرمختيايي پروګرامونو کې ګډون کوي.

### ماده ۱۲۸ ـ له نشه‌يي توکو سره مبارزه:

له نشه‌يي توکو سره مبارزه به پر مخنيوي، زده‌کړه، درملنه او له قاچاق سره پر مبارزې ولاړه وي.

### ماده ۱۲۹ ـ فرهنګي وده:

د ځوانانو فرهنګي، علمي او فکري ودې ملاتړ کېږي.

### ماده ۱۳۰ ـ برابر فرصت:

د ټولو ځوانانو لپاره برابر ښوونيز او ټولنيز فرصت برابرېږي.

### ماده ۱۳۱ ـ له استعدادونو ملاتړ:

له علمي، هنري، ورزشي او تخنيکي استعدادونو ملاتړ کېږي.

### ماده ۱۳۲ ـ د ځوانانو رول:

ځوانان د هېواد د علمي، اقتصادي او ټولنيز نوي کولو اساسي ځواک ګڼل کېږي.

# اتلسم فصل ـ ملي، ژبنۍ او فرهنګي برابري:

### ماده ۱۳۳ ـ ملي برابري:

د هېواد ټول مليتونه او قومونه له برابر حقونو برخمن دي.

### ماده ۱۳۴ ـ ژبې:

د هېواد ژبې برابر حقوق لري او د سيمه‌ييزو ژبو د زده‌کړې او پراختيا ملاتړ کېږي.

### ماده ۱۳۵ ـ فرهنګ او ميراث:

سيمه‌ييز فرهنګونه، تاريخي ميراث او مثبت دودونه ساتل کېږي او ملاتړ يې کېږي.

## نولسم فصل ـ فرهنګ او رسنۍ:

### ماده ۱۳۶ ـ عامه فرهنګ:

دولت علمي، انساني او ټولنیز فرهنګ پراخوي.

### ماده ۱۳۷ ـ عامه رسنۍ:

عامه رسنۍ د زده‌کړې، ټولنیز پوهاوي او د خلکو د ګټو په خدمت کې فعالیت کوي.

### ماده ۱۳۸ ـ هنر او ادبیات:

د هنري او ادبي فعالیت آزادي او له هنرمندانو او لیکوالانو ملاتړ تضمینېږي.

### ماده ۱۳۹ ـ فرهنګي میراث:

تاریخي آثار او فرهنګي میراث ساتل کېږي.

### ماده ۱۴۰ ـ علمي فرهنګ:

دولت د زده‌کړې او ټولنیز پوهاوي له لارې له بې‌سوادۍ، خرافاتو، ناپوهۍ، تعصب او کرکې سره مبارزه کوي.

## شلم فصل ـ علم، ټکنالوژي، مصنوعي ځیرکتیا او روباټیک:

### ماده ۱۴۱ ـ د ټکنالوژۍ پراختیا:

د ټکنالوژۍ د پراختیا ملي پروګرام تدوینېږي.

### ماده ۱۴۲ ـ مصنوعي ځیرکتیا:

مصنوعي ځیرکتیا په زده‌کړه، روغتیا، تولید، کرنه، د سرچینو اداره او د ټولنیزو ستونزو په حل کې کارول کېږي.

### ماده ۱۴۳ ـ روباټیک:

روباټونه د ګټورتیا د زیاتولو او د خطرناکو، سترو کوونکو او فرسایشي کارونو د کمولو لپاره کارول کېږي.

### ماده ۱۴۴ ـ ټکنالوژي د خلکو په خدمت کې:

هغه پوهه او ټکنالوژي چې په عامه بودجه تولیدېږي، باید په لومړۍ درجه کې د عامه ګټو په خدمت کې وي.

## یوویشتم فصل ـ چاپېریال:

### ماده ۱۴۵ ـ د چاپېریال ساتنه:

د چاپېریال او طبیعي سرچینو ساتنه د دولت او ټولنې دنده ده.

### ماده ۱۴۶ ـ پاکه انرژي:

د تجدیدېدونکو او پاکو انرژیو پراختیا کېږي.

### ماده ۱۴۷ ـ د ککړتیا کمول:

د هوا، اوبو او خاورې د ککړتیا د کمولو پروګرامونه پلي کېږي.

### ماده ۱۴۸ ـ چاپېریالي توازن:

اکولوژیک توازن او ژوییز تنوع ساتل کېږي.

### ماده ۱۴۹ ـ شین ښار:

شنو ښارونو، عامه لېږد رالېږد، شنو فضاوو، د اوبو اداري او د انرژۍ د ګټورتیا پراختیا کېږي.

## دوه‌ویشتم فصل ـ ښاري او کلیوالي پرمختګ:

### ماده ۱۵۰ ـ متوازن پرمختګ:

د ښار او کلي پرمختګ باید متوازن وي.

### ماده ۱۵۱ ـ ښاري پلان‌جوړونه:

ښاري پلان‌جوړونه د نفوس، ټولنیز استوګنځي، عامه خدمتونو، لېږد رالېږد او چاپېریال پر بنسټ ترسره کېږي.

### ماده ۱۵۲ ـ کلیوالي خدمتونه:

کلي له زېربنایي او ټولنیزو خدمتونو برخمنېږي.

### ماده ۱۵۳ ـ د جبري مهاجرت کمول:

بې‌وزلي او د خدمتونو کمښت باید له کلیو او محرومو سیمو څخه د خلکو د جبري مهاجرت لامل نه شي.

## درې‌ویشتم فصل ـ بهرنۍ پالیسي:

### ماده ۱۵۴ ـ خپلواکه بهرنۍ پالیسي:

خپلواکه او پر ملي ګټو ولاړه بهرنۍ پالیسي تعقیبېږي.

### ماده ۱۵۵ ـ له امپریالیزم سره مبارزه:

هېواد له استعمار، امپریالیزم، واکمنۍ، سیاسي او اقتصادي تړاو او بهرني تېل کېدو سره مخالفت کوي.

### ماده ۱۵۶ ـ نړیوال پیوستون:

افغانستان د سولې، خپلواکۍ او ټولنیز عدالت لپاره د ملتونو او خپلواکو او مخکښو ځواکونو د پرمختګپالو مبارزو ملاتړ کوي.

### ماده ۱۵۷ ـ بهرنۍ اقتصادي اړیکې:

بهرنۍ اقتصادي اړیکې به پر متقابلو ګټو، د ټکنالوژۍ پر لېږد، کورني پرمختګ او د سرچینو د لوټ د مخنیوي ولاړې وي.

## څلورویشتم فصل ـ ملي مسئله او ځمکنۍ بشپړتیا:

### ماده ۱۵۸ ـ داوطلبانه یووالی:

ملي یووالی د برابري، عدالت او د خلکو د سیاسي ګډون پر بنسټ ولاړ دی.

### ماده ۱۵۹ ـ د ملي مسئلې حل:

ملي مسئلې د حقوقي برابري، متوازن پرمختګ او سیاسي ګډون له لارې حل کېږي.

### ماده ۱۶۰ ـ د ډیورنډ مسئله:

د ډیورنډ مسئله د سیاسي، تاریخي او ډیپلوماتیکو لارو او د دې مسئلې د اړوندو خلکو د ارادې پر بنسټ تعقیبېږي.

### ماده ۱۶۱ ـ ځمکنۍ بشپړتیا:

د افغانستان ځمکنۍ بشپړتیا ساتل کېږي.

### ماده ۱۶۲ ـ سیمه‌ییزه همکاري:

سیمه‌ییزه اقتصادي، فرهنګي او علمي همکاري پراخېږي.

### ماده ۱۶۳ ـ سیمه‌ییزه سوله:

افغانستان د سولې، ښه ګاونډیتوب او سیمه‌ییزې همکارۍ غوښتونکی دی.

## پنځه‌ویشتم فصل ـ سوسیالیزم ته لېږد:

### ماده ۱۶۴ ـ د لېږد بهیر:

سوسیالیزم ته لېږد یوه تاریخي او ټولنیزه پروسه ده چې باید د افغانستان د واقعي شرایطو، د تولیدي ځواکونو د ودې او د هېواد د اقتصادي ظرفیت پر بنسټ ترسره شي.

### ماده ۱۶۵ ـ د لېږد دورې اقتصاد:

سوسیالیزم ته د لېږد په دوره کې به عامه، دولتي او تعاوني مالکیت د اقتصاد په اساسي برخو کې مرکزي رول ولري، په داسې حال کې چې په مجازو برخو کې خصوصي فعالیت کولای شي د قانون په چوکاټ کې دوام ومومي.

دولت مکلف دی چې پر طبیعي سرچینو، ستراتیژیکو صنایع، انرژۍ، بانکي نظام او د اقتصاد پر نورو حیاتي برخو د خصوصي انحصار مخه ونیسي.

د لېږد د دورې اقتصادي پالیسي باید داسې تنظیم شي چې په تدریجي ډول د ټولنیز او عامه مالکیت ونده زیاته او د استثمار مادي زمینې کمې شي.

### ماده ۱۶۶ ـ د تولیدي ځواکونو وده:

د صنعت، کرنې، علم، ټکنالوژۍ او بشري ځواک پراختیا سوسیالیزم ته د لېږد بنسټ دی.

### ماده ۱۶۷ ـ د نابرابرۍ کمول:

اقتصادي او ټولنیزه نابرابري په تدریجي ډول کمېږي.

### ماده ۱۶۸ ـ ټولنیزه زده‌کړه:

د ټولنیز پوهاوي د لوړولو او د کادرونو د روزنې لپاره علمي، ټولنیزه، سیاسي زده‌کړه او د مارکسیزم ـ لنینیزم کورسونه پراخېږي.

## شپږویشتم فصل ـ سوسیالیستي نظام:

### ماده ۱۶۹ ـ ټولنیز مالکیت:

د سوسیالیستي نظام د تولید عمده وسایل تر ټولنیز مالکیت لاندې راځي.

### ماده ۱۷۰ ـ سوسیالیستي پلان‌جوړونه:

سوسیالیستي اقتصاد د ملي پروګرامونو او ټولنیزو اړتیاوو پر بنسټ تنظیمېږي.

### ماده ۱۷۱ ـ د سوسیالیزم په لومړي پړاو کې وېش:

د سوسیالیزم په لومړي پړاو کې د وېش اساسي اصل د کار او د ټولنیز ګډون د کچې پر بنسټ دی؛ خو اساسي مالونه او خدمتونه لکه زده‌کړه، روغتیا، ټولنیز خدمتونه، بنسټیزې اوبه او برېښنا، ټولنیز استوګنځی او نورې عامه اړتیاوې کولای شي له مزد سره د مستقیم تړاو څخه بهر او په وړیا یا ټولنیزه توګه خلکو ته برابر شي.

د تولیدي ظرفیت او ټولنیزې فراوانۍ په زیاتېدو سره، د هغو اړتیاوو ونډه چې وړیا برابریږي، زیاتېږي.

**ماده ۱۷۲ ـ وړیا خدمتونه:**

زده‌کړه، روغتیا، ضروري اوبه او برېښنا، ټولنیز خدمتونه، ټولنیز استوګنځی او نور اساسي عامه خدمتونه وړیا یا په ټولنیزه توګه برابریږي.

**ماده ۱۷۳ ـ خلکو ته د ټولنیزې شتمنۍ بېرته ګرځول:**

له عامه مالکیت، طبیعي سرچینو، ملي صنایع او ټولنیزو مؤسسو ترلاسه کېدونکی عاید باید د وړیا خدمتونو، عامه مرستو، کوپن یا ټولنیز اعتبار، د استوګنې، زده‌کړې، روغتیا، تغذیې، لېږد رالېږد او نورو ټولنیزو خدمتونو د پروګرامونو له لارې خلکو ته بېرته وګرځول شي.

د دې نظام موخه دا ده چې د ټولنې تولید شوې شتمني، د دې پر ځای چې د لږکیو په لاس کې راټوله شي، د عامه هوساینې د زیاتولو او د تولیدي ځواکونو د ودې په لوري ولګول شي.

**ماده ۱۷۴ ـ د پولي او کالایي مناسباتو تدریجي کمول:**

د پولي او کالایي مناسباتو د رول کمول یوازې د تولیدي ځواکونو په ودې، د تولید په زیاتېدو، د مالونو او خدمتونو د فراوانۍ په برابرولو، د ټولنیز مالکیت په پراختیا او د اړتیا له مخې د وېش لپاره د لازم ظرفیت په رامنځته کولو سره ممکن وي.

له دې امله، د لېږد په دوره کې پیسې او بازار په هغو برخو کې چې لا یې شتون اړین دی، کولای شي د ټولنیز تنظیم او ملي پلان‌جوړونې لاندې وکارول شي، او رول یې د ټولنیز اقتصاد د ودې سره سم په تدریجي ډول کم شي.

**ماده ۱۷۵ ـ سوسیالیستي فرهنګ:**

سوسیالیستي فرهنګ پر همکارۍ، پیوستون، ټولنیز کار، علم، برابرۍ او ډله‌ییز مسؤلیت ولاړ دی.

## اووه‌ویشتم فصل ـ کمونېستي افق:

**ماده ۱۷۶ ـ بې‌طبقې ټولنه:**

وروستۍ تاریخي موخه د داسې ټولنې رامنځته کول دي چې استثمارګرې او استثمارېدونکې طبقې ونه لري.

**ماده ۱۷۷ ـ د دولت تدریجي زوال:**

د طبقو او د واکمنۍ او استثمار د مادي شرایطو په له منځه تلو سره، دولت د طبقاتي واکمنۍ د وسیلې په توګه په تدریجي ډول خپل تاریخي فعالیت له لاسه ورکوي او زوال مومي.

**ماده ۱۷۸ ـ انساني نړیواله ټولنه:**

د انساني ټولنو ترمنځ د همکارۍ په ودې سره، سیاسي پولې په تدریجي ډول خپل بېلوونکی او سیال رول له لاسه ورکوي.

**ماده ۱۷۹ ـ د اړتیا له مخې وېش:**

کله چې ټولنه د مادي فراوانۍ لوړې کچې ته ورسېږي، د اړتیا له مخې د وېش اصل د کالایي او پولي مناسباتو ځای نیسي.

**ماده ۱۸۰ ـ ټکنالوژي او د انسان ازادي:**

مصنوعي ځیرکتیا، روباټیک او د راتلونکې ټکنالوژۍ باید د فرسایښي او خطرناکو کارونو څخه د انسان د آزادولو او د انساني استعدادونو د ودې د امکان برابرولو په لوري وکارول شي.

## اته‌ویشتم فصل ـ د پروګرام د پلي کولو اصول:

### ماده ۱۸۱ ـ اجرائیوي پروګرامونه:

د دې مرام تولې موخې د لندمهالو، منځمهالو او اوږدمهالو پروګرامونو له لارې پلي کېږي، او هر پروګرام باید موخه، سرچینې، مسؤل بنسټ، مهال‌وېش او د اندازې وړ شاخصونه ولري.

### ماده ۱۸۲ ـ ارزونه او څارنه:

د پروګرامونو پلي کول هر کال ارزول کېږي او انقلابي شورا او د تفتیش او حسابرسۍ خپلواک کمېسیون د پروګرام پر پلي کولو او د عامه بودجې پر لګولو څارنه کوي او رپوټ یې خلکو ته وړاندې کوي.

### ماده ۱۸۳ ـ ټولنیز ګډون:

د پروګرام پلي کول د شوراګانو، کارګرانو، بزګرانو، ښځو، ځوانانو، روڼاندو، متخصصانو او ټولنیزو سازمانونو په ګډون ترسره کېږي.

### ماده ۱۸۴ ـ تاریخي موخه:

د پروګرام وروستۍ موخه د استثمار، تبعیض او پراخې بېوزلۍ پرته د یوې ټولنې رامنځته کول او د ټولنې تدریجي او آګاهانه حرکت د سوسیالیزم او کمونېستي افق پر لور دی.

وروستی اصل!

دغه مرامنامه د ټولنې د آګاهانه تنظیم او د خلکو د واقعي اړتیاوو ته د ځواب‌ویلو سند دی. اجرائیوي پالیسۍ یې باید د افغانستان د مشخصو شرایطو، تاریخي تجربې، علم، ټکنالوژۍ او د پروګرامونو د پلي کولو د واقعي پایلو پر بنسټ تکامل ومومي.

د پروګرام د بریا معیار د خلکو پر ژوند یې اغېز، د تولیدي ځواکونو وده، د استثمار او نابرابرۍ کمېدل، د علم او فرهنګ پراختیا، د تولید زیاتوالی او د ملي خپلواکۍ پیاوړتیا ده.

د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند – «نوي بېرغوال»